مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالوهاب باور

۲۰۲۶/۰۸/۱۳

# په موږه په محشر پسې محشر مه راوله

په موږه په محشر پسې محشر مه راوله
خالقه د بترو نه بتر مه راوله

همدا راته لږ ښه کړه څه اصلاح ورته پکار ده
دې سوي قام ته کوتې پسې خر مه راوله

دوئ یو ځلې د ټول ولس لوټ کړي ارزښتونه
په نوم د رهبرانو کیسه‌بر مه راوله

روزګار، ملي بیرغ ، غواړو د نجونو مکتبونه
نور بل کوم انجینیر پروفیسر مه راوله

همدې سرکار ته خدایه د نیکی هدایت وکړه
زغم نشته د لنګمارو بل نوکر مه راوله

نور بس دی دوزخونه مو بیحده تجربه کړل
پدې دنیا قیامت بیا په باور مه راوله

باور



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ